***لیکوونکی:*** کریس فلوید «Chris Floy».
***منبع اودخپریدو نیټه*** : انفارمیشن کلیرنګ هوز «۲۰۱۵-۱۱-۱۱۳».
***ژباړونکی:*** پوهندوی دوکتورر سیدحسام «مل» .
---

## د ناهیلی اود نا ا میدی زما نه : د پا ریدونکی افراطیت څخه دغرب د توفا نی ملاتړ پا یلی

***The Age of Despair: Reaping The Whirlwind of Western Support For Extremist Violence***

*مونږ غربیان په عراق کی «صدام حسین» په لیبیا کی « معمرالقذافی» د خشونت اود تشد د دلاری په خپلولو سره نسکور کړ او اوس لا زیار باسو چی «بشر الاسد» په سوریه کی وپرځو او له واکه څخه یی رانسکورکړو. اوددی په لته کی یو چی ټول له خشونته ډک رژیمونه یوبل پسی له واکه راوپرځوو دلته یوسوال را پیدا کیږی اوهغه داچی دغه رانسکور کړل شوی او یا هغه رژیمونه چی غرب غواړی هغوی را نسکور کړی هغه حکومتونه د سعودی عربی دولت اونورو رژیمونو څخه کوم چی دغرب ترحمایت لاندی قرار لری بد اوکرغیړن وه ؟ یا داچی دامریکی متحده ایالات اودهغه نورغربی متحد ین ددی مستقیم مداخلی اولاس وهنوڅخه څه لاسته راوړنی ترلاسه کول غواړی ؟*

*ځواب ساده دی اوهغه یو دوزخی او جهنمی نړی – هغسی یو نړی چی پکی په میلیونون انسا نا نو د بد بختی او د نا امنیی اود نیستی اود بی روزګاری سره لاس په ګریوان وی .هغسی یو ژوند چی د هرکال په تیریدو سره لاپسی ددی نړی انسا نا نودبد مرغیو په کندوکی سره ولویږی- ایا داسی بد مرغه ژوند بی د متحده ایالاتودواکدا رانواود هغه د غربی متحد ینو دمستقیم لاس وهنو څخه رامینځته کیدل ؟ یا داچی بی دا مریکی د متحده ایالات اود هغه دغربی متحد ینو دمرستی څخه پرته ددی امکان موجود چی د عراق و شام دولت اودالقاعدی په څیرافراطی ډلی ټپلی را مینځته شي؟اویا ددی امکان وړل کیدل چی یو سنی مذهب افراطی سړی وژونکی ډلی را مینځته شی اویا داچی بی د* ***(کارتر)*** *اود* ***(ریګن)*** *د زما مداری اود هغو د مستقیم لاس وهنو اومرستو څخه ددی امکان میسر وه چی افراطګرایی دنړی په ټولو برخو کی*

وده وکړی اودا نړی په جهنم اودوزخ بد له کړی؟ ایا ددی امکان تر سترګو کیده چی د پاریس کوڅی دبی ګناهو ا نسا نا نوپه وینو سره ولړل شی اویا دوینی لښتی وبهیږی لکه چی پرون شپه بیګناه انسانان ووژل شول اویا ددی امکان وړل کیدل چی دترور سره باید وجنګیږو ؟ ددی ټولو سوالونو ځواب دادی : **ا مریکی او د هغه متحد ین ددی ټولو نا خوالو عمده اورغنده عا ملین اومسببین دی .**






**دلته تروریزم نه دریږی تروریزم په غیرقانونی بنبی سره اروپا ته صادریږی**

که ممکن وی اجازه راکړی چی له سره یو ځلی بیا پر موضوع با ندی یوڅه رڼاواچوو اوهغه داچی : نن کوم چی مونږ په دغه رامینځته کړل شوی دوزخی نړی کی ژوند کوودا دامریکی د متحده ایالاتو اودهغه دغربی متحد ینو د تیر لیسیزی روښا نه او درغنده پالیسی پا یلی او نتیجه دی چی ټولو ته لکه

دلمر دوړانګې په څیر روښانه ښکاري – دا واشنګټن وه چې په مینځنۍ ختیځ کې په جعل اودروغو سره د سیاسیي سکولر مقاومت د لیکو او غورځنګونو سره خپل ملاتړ اعلان کړ اود «ناصر »په څیر د سرکشو رهبرانو کوم چې دواشنګټن اجندا یې نه منل دکودتا په کولو سره د مینځه ویوړ اود هغو پرځای یې د خپل خوښې فاسد او وحشي صفت رهبران په واک ورسول چې د واشنګټن ګټې اود هغه استثما ري پالیسي په سیمه کې پلې کړي .

د تیرې نیمایي پیړۍ د تاریخ د نه هیریدونکو قصو او داستانونو څخه داسي روښانه قصې مو ترسترګو کیږي چې دهغه یا دونه د لته ضرور بریښي او هغه داچې دامریکې متحده ایالات په کال (۱۹۵۳) کې دایران د موکراتیک حکومت چې د «مصدق» تر مشرۍ لاندې دایران دخلکو دهوسا ژوند دپاره هلې ځلې کول دیو کودتا په ترسره کولو سره د هغه حکومت په عمدي او په اګاهانه بڼې سره رانسکور کړ اودهغه پرځای یې ډیر افراطي سکتاریستي ګروپونه کوم چې په ایران کې دواشنګټن اجندا تطبیق کړي په واک ورسول اودهغو څخه خپل ملاتړ په ډاګه کړ.

دلته یو سوال را پیداکیږي او هغه داچې واشنګټن ولې غواړي چې نړۍ بیرته دتیکې دورې ته راستون کړي اود خپل مقاصد و دلاسته راوړلو د پا ره داسې وحشي صفت –مفسد – سرېوژونکې ډلې تپلې وروزي اویا یې وروزول کوم چې هغوی نن شپه د پاریس کوڅې د سلونو بیګناهو انسا نا نو په وینو سره ولړل او دفرانسې په پایتخت کې دبې ګناه انسانانو دوینې لښتي وبهول . نو که چیرې دامریکې متحده ایالات تاریخ شا ته نه وه غورځولي هیڅکله به لکه نن دپاریس کوڅې دبې ګناهو انسانانو په وینو نه رنګیدله اودوینې لښتي نه بهید له دا دامریکې متحده ایالات وه چې له څو لسیزې څخه را په دې خوا په دې هڅه اواند کې وه چې مذهبي افراطي ډ لې تپلې رامینځته کړي اوبیا یې سره په دوو متضا دو اړخونو وویشي اودهغوی په مینځ کې خشونت ا وشخړې ته لمن ووهي اوپه دې شان وشي کړلې چې په نړۍ کې بې امنۍ رامینځته کړي اود همدې بې امنۍ اوانا رشي په سیورۍ کې خپل ګټې تر لاسه کړي . اوس هیڅ څوک له واقیعت څخه سترګې نشي پټولی اوبیا په ځانګړې بڼې سره کوم چې مونږ اوس دپاریس حالات او وضیعت ته که نطر واچو په رڼو سترګو ګورو چې جنا یت اوفساد خپل اخرۍ څوکې ته ځان رسولي او هغه څه دې کوم چې

د تروریستا نو پواسطه سره تر سره شو او هرڅوک اوس پوهیږی چی ددی تروریستانو تر شا د چا لاسونه دی ؟

ما دغه مقاله په ډیر مایوسی اوپه ډیر ناهیلی سره چی می له سترګو څخه اوښکی جاری وه ولیکل اوهغه داچی زه دپاریس دبی ګناهو خلکو د وژل کیدو له سببه ډیر متاثر او خپه اوم اود ځان سره می ویل څومره جنایت اوڅومره فساد اودا ولی ولی ولی او ولی ؟ ځما دناامیدی کچه لاپسی په زیاتیدو دی او هغه داچی دقدرت خاوندان دتاریخ څخه هیڅ عبرت نه اخلی اوبیا له سره په همغه تیرو غلطو سا سیتونو با ندی ټینګا ر کوی او یا همغه غلط پالیسی تعقیبوی کوم چی نړی دی حد ته رسولی یعنی د شرارت – بدمرغی – فساد – قتل – مذهبی اختلافات – سمتی- ژبینی تضاد او .... اوداسی نور سیاستونه

دغه پورتنی یادشوی ناخوالی هغه څه دی چی نن دهغه عاملین داروپا په روښانه تالارونو او سا لونونو کی داوچت ګا مونو په پورته کولو سره د خپل خوښی ا جندا دپلی کولو د پاره په اقداماتو لاس بوری کوی او د هرورځ په تیریدو سره زمونږ نړی دبد مرغیو خواته وړی مترقی غورځنګونه له مینځه وړی اودخپل خوښی دیکتا توری واکداران کوم چی دهغوی ګټی تامین کړی په واک کی رسوی .

--------------------------------------- **په درناوی**